# د میاشتې د لیدلو او د مطالعو د اختلاف په تړاو د راجح قول د رابرسېره کولو څېړنه

نوماند پوهنیار محمدعارف حلیم
فقه او قانون څانګه، شرعیاتو پوهنځی، فراه پوهنتون
ایمیل: hhlym5085@gmail.com

## لنډیز

دا څېړنه د میاشتې د لیدلو او د مطالعو د اختلاف په تړاو د راجح قول په لټه کې ترسره شوې. د اختلاف مطالعو په اړه فقهي احکام د اسلامي شریعت په چوکاټ کې د میاشتو لیدلو او د قمري میاشتو پیل او پای ټاکلو پورې اړه لري، په ځانګړي ډول د روژې میاشتې او اخترونو په اړه دا مسأله خورا اړینه ده. د څېړنې موخه د مذاهبو د علماؤ بیلابیلو نظرونو په څېړلو سره د راجح قول څرګندونه ده. د دې څېړنې ارزښت له څو اړخونو ډېر مهم او حیاتي ګڼل کېږي، ځکه چې دا موضوع یوازې یوه علمي یا فقهي مسأله نه ده، بلکې د اسلامي امت د یووالي، د شرعي مناسبتونو د همغږۍ او د دیني اصولو د عصري اړتیاوو سره د تطبیق یوه مهمه برخه ده. څېړنې ته د دې لپاره اړتیا وه، چې د هجري قمري میاشتې د پیل او پای په اړه د رؤیت (فزیکي لید) او فلکي محاسبو ترمنځ اختلاف یوه اوږده، تکرارېدونکې او عملي ستونزه ده، چې هر کال د اسلامي امت ترمنځ د عباداتو، اخترونو او نورو دیني مناسبتونو په تعین کې جدي اختلافات او ګډوډۍ رامنځته کوي. د همدې جدي ستونزې له امله دا څېړنه مهمه او اړینه ده، چې اړتیا یې له څو اړخونو ښکاره کېږي. د دې څېړنې ډول کتابتوني دی، چې په توصیفي- تحلیلي کړنلارې ترسره شوې او له معتبروسرچینوڅخه پکې استفاده شوې ده، د څېړنې موندنې ښکاره کوي، چې د صحیحو او معتبرو احادیثو، لکه «صوموا لرؤیته و أفطروا لرؤیته»، په رڼا کې څرګندېږي، چې د میاشتې د پیل او پای اصلي معیار د فزیکي رؤیت (سترګو لید) دی. دا نظر د جمهورو علماو، لکه: امام ابوحنیفه، امام مالك، امام شافعي او امام احمد بن حنبل له نظرونو سره همغږي لري.

**کلیدي کلمې:** اختلاف، روژه، رؤیة، میاشت، مطالع.

**سریزه**

د رؤية الهلال اړوند موضوع د یوه تفصیلي او علمی څېړنې پیل دی او د دې موضوع اهمیت، د فقهاؤ ترمنځ د اختلافاتو شتون او د اسلامي ټولنې لپاره یې د عملي اړخونو په اړه یو لومړنی څېړنیز لید وړاندې کوي او پهدې څېړنه کې د رؤيةالهلال او اختلاف مطالع اړوند هغه فقهي مسائل بیانېږي، چې د اسلام مبارك دین یو مهم رکن (روژې) پیل، خلاصون او همدارنګه ځیني نور فقهي احکام، چې دا په اسلام کې خورا ځانګړی حیثیت لري، په همدې رؤية الهلال پورې تړلي دي. په ځانګړي ډول روژه او اخترونه.

د دې څېړنې ارزښت له څو اړخونو ډېر مهم او حیاتي ګڼل کېږي، ځکه چې دا موضوع یوازې یوه علمي یا فقهي مسأله نه ده، بلکې د اسلامي امت د یووالي، د شرعي مناسبتونو د همغږۍ او د دیني اصولو د عصري اړتیاوو سره د تطبیق یوه مهمه برخه ده. دا څېړنه به دا وضاحت راولي، چې ولې اختلافات رامنځته کېږي؟ څه شی د میاشتې د لیدلو لپاره معتبر ګڼل کېږي؟ او خلك څنګه کولای شي د اختلاف پر ځای یوه شرعي، معقوله او علمي نظریه تعقیب کړي او د عامو خلکو د پوهاوي لپاره یومنظم لارښود رامنځته شي.

د دې څېړنې موخه د میاشتې د لیدو (رؤیت) او علمي محاسبو (مطالعو) ترمنځ د اختلاف فقهي، شرعي او علمي بنسټونه څېړل د مختلفو مذاهبو نظرونه او دلایل راټولول، پرتله کول او تحلیلول د راجح قول (هغه نظر چې شرعاً او علماً قوي او علمي وي) تثبیت او وړاندې کول دي.

د دې څېړنې ستونزې د رؤية الهلال په اړه د فقهاؤ او د هیوادونو ترمنځ د اختلافاتو یوه عمده وجه پهدې اساس ده؛ چې آیا د هلال د لیدلو یوه سیمه د نورو سیمو لپاره د میاشتې شروع او پای ټاکي او کنه. د رؤية الهلال په اړه د فقهاؤ او مذاهبو لکه حنفیه، شافعیه، مالکیه او حنابله ؤ د رؤية الهلال په اړه مختلف اصول او تګلارې وړاندې کړېدي، چې ځینې یې د واحد هلال لیدل د ټولو مسلمانانو

لپاره کافي ګڼي، په داسې حال کې، چې نور يې د فاصلې او حدودو پراساس د هلال ليدلو ضرورت ته اشاره کوي.

د رؤية الهلال يا د نوي مياشتې د ليدلو تعلق د روژې او اختر سره، رؤية الهلال مخکې له زوال او وروسته له زوال او راجح قول د حنفي فقهي او فقهي احکامو په رڼا کې د مسلمانانو د ورځني ژوند يوه مهمه برخه ده. دا مسأله يوازې د شرعي عباداتو لکه روژې، فطر په اړه نه، بلکې د اسلامي ټولنې د يوه مهم عملي اړخ، يعنې د مياشتې شروع او پاى د معلومولو په برخه کې هم اهميت لري. پهدې څېړنه کې موږ د رؤية الهلال د فقهاؤ د اختلافاتو پربنسټ د موضوع د روښانه کولو لپاره کوښښ کړى، چې د هلال د ليدلو لپاره د مختلفو تګلارو پر بنسټ عملي حل لارې وړاندې کړو لکه د رمضان مياشتې شاهدي(ګواهي) او ليدلو په اړه، د شوال(اختر) مياشتې شاهدي(ګواهي) او ليدلو په اړه ، د عدالت تعريف او د عادل ځينې ځانګړتياوې، د ټيلګراف، ټيلفون او راډيو له لارې ګواهي يا خبر او د شهادت او خبر منځ کې توپير دې مسألې د حلولو لپاره ځينې علمي نظرونه وړاندې شويدي.

د اختلاف مطالع اړوند فقهي احکامو څېړنه او د احنافو د مذهب ترجيح، د اسلامي فقهې يو اړين او ژور بحث دى، چې د مختلفو فقهاؤ ترمنځ د اختلاف نظر او عملي تفاوتونو په اړه تحقيق کوي. پهدې مقاله کې، موږ په لومړي سر کې د اختلاف مطالع اړوند، د هيوادونو تر منځ د فاصلې اندازه ، اختلاف مطالع د ائمه ؤ له نظره او د دوى اختلاف او د احنافو د مذهب ترجيح او د اصولو پر بنسټ د اختلاف حل لارې څېړلي دي.

د اسلامي فقهې ترمنځ دغه اختلافات د قرآن کريم، تفسير، حديث ، اجماع، قياس او نورو اصولو په کارولو سره فقهي احکام استنباطوي. د دې اختلافاتو مطالعې نه يوازې فقهي پوهانو ته بلکه د عادي مسلمانانو لپاره هم د ديني پوهې پراختيا ته لاره هواروي.

د فقهاؤ او مذهبونو ترمنځ د نظرياتو او احکامو اختلافات يوه عامه ځانګړنه ده. په‌دې کې د احنافو د مذهب ځانګړی ځای دی، چې د فقهي اصولو پر بنسټ يې په مختلفو مسايلو کې ځانګړي حکمونه وړاندې کړي‌دي. د احنافو مذهب د فقهي اصولو له‌مخې، د اجتهاد په پړاو کې د اختلافاتو پر مهال پراخه فکري لاره پرانيزي چې په مختلفو زماني او مکاني شرايطو کې کارول کېدی شي. دغه اختلافات د اسلامي ټولنې د متنوعو اړتیاوو په وړاندې ديني حلول وړاندې کوي.

## د څېړنې کړنلاره

په‌دې څېړنه کې له کتابتوني څېړنيز ډول او تحليلي او توصيفي کړنلارې څخه کار اخيستل شوی، د موضوع د روښانه کولو لپاره له معتبرو تاريخي کتابونو څخه د اړتيا وړ مواد ترلاسه او تحليل شوي‌دي.

## د اړينو اصطلاح‌ګانو پېژندنه

### میاشت په لغت کې

الازهري فرمايلي: هلال(مياشت) په‌لغت کې سپوږمۍ ته وايي. په يوه ځانګړي حالت کې سپوږمۍ ته د مياشتې د لومړيو دوو شپو لپاره هلال(مياشت) ويل کېږي، همدا راز د شپږويشتمې او اووه ويشتمې شپې سپوږمۍ ته هم هلال(مياشت) ويل کېږي او هغه څه، چې د دې د ترمنځ وي، هغه ته قمر (سپوږمۍ) ويل کېږي.**الْهِلاَل فِي اللُّغَةِ: هُوَ الْقَمَرُ فِي حَالَةٍ خَاصَّةٍ، قَال الأْزْهَرِيُّ: وَيُسَمَّى الْقَمَرُ لِلَيْلَتَيْنِ مِنْ أَوَّل الشَّهْرِ هِلاَلاً، وَفِي لَيْلَةِ سِتٍّ وَعِشْرِينَ وَسَبْعٍ وَعِشْرِينَ أَيْضًا هِلاَلاً، وَمَا بَيْنَ ذَلِكَ يُسَمَّى قَمَرًا.** (الموسوعةالفقهية الکويتية،۱۴۰۴ :۲۹۷/۴۲)

### میاشت په اصطلاح کې

مياشت په اصطلاح کې هغه باريک، روڼ قوس‌نماه او روښانه برخه ده، چې د قمر (سپوږمۍ) څخه د نوې مياشتې په لومړۍ شپه کې ليدلای شي.**وَفِي الاِصْطِلاَحِ الْهِلاَل: مَا يُرَى مِنَ الْمُضِيءِ مِنَ الْقَمَرِ أَوَّل لَيْلَةٍ** (الموسوعةالفقهية الکويتية،۱۴۰۴ :۲۹۷/۴۲)

د مخکنۍ میاشتې په نهه ویشتمه نېټه د لمر له لویدو وروسته په سترګو لیدل او په هغه باور کول وي.

ابْنُ سِيدَهْ (رحمه الله)فرمايلي دي: ليدل په زړه او سترګو سره وي او دا د ليدلو سرچينه ده.**رُؤْيَةُ الْهِلاَل: إِدْرَاكُ الشَّيْءِ بِحَاسَّةِ الْبَصَرِ، وَقَال ابْنُ سِيدَهْ: الرُّؤْيَةُ. النَّظَرُ بِالْعَيْنِ وَالْقَلْبِ، وَهِيَ مَصْدَرُ رَأَى**(الموسوعةالفقهية الكويتية،۱۴۰۴ :۱۱۰/۳۸)

(الرُّؤْيَةُ) دا د يو شي د ليدلو عمل دی، چې د ليدو حس‌له لارې ترسره کېږي. ابْنُ سِيدَهْ ويلي چې الرُّؤْيَةُ د سترګو اوپه زړه سره کتنه ده، دا د رَأَى مصدر دی.

**د مطالع لغوي معنا**

مطالع په لغت کي د مَطلع جمع ده. د راختلو د ځای او د ښکاره کېدلو په معنی سره راځي.**الْمَطَالِعُ فِي اللُّغَةِ جَمْعُ مَطْلَعٍ – بِفَتْحِ اللاَّمِ وَكَسْرِهَا – وَهُوَ مَوْضِعُ الطُّلُوعِ أَوِ الظُّهُورِوَمِنْ ذَلِكَ قَوْلُهُ تَعَالَى: {حَتَّى إِذَا بَلَغَ مَطْلِعَ الشَّمْسِ} أَيْ مُنْتَهَى الأَْرْضِ الْمَعْمُورَةِ مِنْ جِهَةِ الشَّرْقِ.** (الموسوعةالفقهية الكويتية،۱۴۰۴ :۱۱۰/۳۸)

ژباړه: المطالعُ په لغت کې د مطلع جمع ده، چې د لام په فتحه يا کسره سره ويل کېږي او دا د ښکاره کېدو يا راوتلو ځای ته وايي. لکه څنګه، چې د دې مثال د الله تعالی دا قول دی: {حتی اذا بلغ مطلع الشمس} یعنې تر هغې وروسته، چې د لمر ښکاره کېدلو ځای ته ورسېږي، دا د ختيځ لوري د آبادې ځمکې پای ته اشاره کوي.

**د مطالع اصطلاحي معنا**

مطالع د مطلع جمع ده، په اصطلاح کې د ختيځ له لوري د مياشتې د راختلو او يا د ښکاره کېدلو ځای ته وايي. **لاَ يَخْرُجُ الْمَعْنَى الاِصْطِلاَحِيُّ عَنِ الْمَعْنَى اللُّغَوِيِّ، وَهُوَ مَوْضِعُ الطُّلُوعِ أَوِ الظُّهُورِ، وَيُقْصَدُ بِهِ – هُنَا – مَوْضِعُ طُلُوعِ الْهِلاَل مِنَ الْغَرْبِ** (الموسوعةالفقهية الكويتية،۱۴۰۴ :۱۱۰/۳۸)

ژباړه: اصطلاحي معنی د لغوي معنی څخه وتلی نه‌شي، چې لغوي معنی يې د ښکاره کېدو يا راوتلو ځای دی او دلته (اصطلاحاً) هغه ځای ته اشاره ده، چې هلته د لويديځ له لوري هلال راڅرګندېږي.

## له رؤية الهلال سره د روژې او اختر تړاو

په روژې نيولو او اختر کولو کې د خلکو لپاره مناسبه داده، چې د شعبان په نهه ويشتمه دې د رمضان مياشت او يا د رمضان په نهه ويشتمه دې د اختر مياشت ولټوي. نو په ليدلو سره دې روژه او اختر وکړي او که د شعبان او رمضان مياشتو کې وريځ او ګرځ وه، مياشت ونه ليدل شوه؛ نو د شعبان او رمضان مياشتې دې دېرش ورځې پوره کړي بيا دې روژه او اختر وکړي.

وينبغي للناس أن يلتمسوا الهلال في اليوم التاسع والعشرين من شعبان، فإن رأوه صاموا، وإن غم عليهم أكملوا عدة شعبان ثلاثين يوما، ثم صاموا.(العينی ،١۴٢٠: ١٦/۴)

ژباړه: د روژې په نيولو کې د خلکو لپاره مناسبه دا ده، چې د شعبان په نهه ويشتمه ورځ دې هلال ولټوي. که چيرې هلال وليدل شو، نو روژه دې ونيسي. او که هلال ونه ليدل شو، نو شعبان مياشت دې ٣٠ ورځې بشپړې کړي او بيا دې روژه پيل کړي.

عن أبو هريرة قال: قال رسول الله ﷺ: «**صوموا لرؤيته وأفطروا لرؤيته، فإن أغمي عليكم فأكملوا عدة شعبان ثلاثين**» (البخاري،١۴٢٢:٣/٢٧/١٩٠٩)

ژباړه: د ابو هريره رض څخه روايت دی؛ چې رسول الله ﷺ و فرمايل: چې د هلال د ليدلو په وخت روژه ونيسئ او د هلال د ليدلو په وخت افطار وکړئ. که هلال ونه ليدل شي، نو د شعبان مياشت دې ٣٠ ورځې بشپړې کړئ.

## د ورځې مخکې له زوال او وروسته له زوال د مياشتې ليدل

کله چې د روژې د ورځې مياشت مخکې له زوال او وروسته له زوال څخه وليدل شي. په‌دې مورد کې تفصيل دی؛ هغه دا چې امام ابوحنيفه او محمد (رحمهاالله)

فرمايي: کله چې د روژې د ورځې مياشت مخکې له زوال او وروسته له زوال څخه وليدل شي دا ورځ د رمضان نه‌ده او امام ابو يوسف (رحمه الله)فرمايي: کله چې د روژې د ورځې مياشت وروسته له زوال څخه وليدل شي نو دا ورځ د رمضان نه‌ده او که له زوال مخکې وليدل شوه دا ورځ د رمضان ده. بناءً په‌دې اختلاف مياشت د شوال هم همداسې ده. يعنې امام ابوحنيفه او محمد (رحمهماالله) فرمايي: کله چې د شوال د ورځې مياشت مخکې له زوال او وروسته له زوال څخه وليدل شي نو دا ورځ د شوال (اختر) نه ده.

او امام ابويوسف (رحمه الله) فرمايي کله، چې د شوال د ورځې مياشت وروسته له زوال څخه وليدل شي نو دا ورځ د شوال (اختر) نه‌ده او که له زوال مخکې وليدل شوه دا ورځ د شوال (اختر) ده. دلايل يې په لاندې ډول دي.

۱:(**قَوْلُهُ: وَرُؤْيَتُهُ بِالنَّهَارِ لِلَّيْلَةِ الْآتِيَةِ مُطْلَقًا) أَيْ سَوَاءٌ رُئِيَ قَبْلَ الزَّوَالِ أَوْ بَعْدَهُ (وَقَوْلُهُ عَلَى الْمَذْهَبِ) : أَيْ الَّذِي هُوَ قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ قَالَ فِي الْبَدَائِعِ فَلَا يَكُونُ ذَلِكَ الْيَوْمُ مِنْ رَمَضَانَ عِنْدَهُمَا وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ إنْ كَانَ بَعْدَ الزَّوَالِ فَكَذَلِكَ وَإِنْ كَانَ قَبْلَهُ فَهُوَ لِلَّيْلَةِ الْمَاضِيَةِ وَيَكُونُ الْيَوْمُ مِنْ رَمَضَانَ. وَعَلَى هَذَا الْخِلَافِ هِلَالُ شَوَّالٍ**.( ابن عابدين،۱۴۱۲: ۴۱۶/۳)

ژباړه:(**قَوْلُهُ: وَرُؤْيَتُهُ بِالنَّهَارِ لِلَّيْلَةِ الْآتِيَةِ مُطْلَقًا**) دا قول دا معنا لري؛ چې د راتلونکې شپې مياشت هر وخت په ورځ کې وليدل شي، که مخکې له زوال وي او که وروسته له زواله. (قوله "عَلَى الْمَذْهَبِ" )په‌دې معنا ده؛ چې دا د امام ابوحنيفه او امام محمد نظريه ده، چې په (البدائع )کتاب کې يې ذکر کړې ده. د دې له‌مخې د دوی په نظر دغه ورځ د رمضان نه‌ده. ولې امام ابو يوسف وايي: چې که مياشت وروسته له زواله وليدله شي، نو دا د رمضان مياشت ورځ نه‌ده او د راتلونکې شپې مياشت ده، که مخکې له زواله وي، نو دا د تېرې شپې مياشت ده او همدا ورځ د رمضان ورځ ګڼل کېږي. د دې خبرې پر اساس د شوال د مياشتې په اړه هم همدغه اختلاف دی. د امام ابوحنيفه او امام محمد په نظر، هلال د راتلونکي شوال لپاره

ثابتيږي، که په ورځ کې وليدل شي، نو دا ورځ د رمضان نه‌ده. ولې امام ابو يوسف وايي:که هلال مخکې له زواله وليدل شي، نو دا د تېرې شپې هلال دی او همدا ورځ د فطر ورځ ګڼل کيږي.

د امام ابو يوسف (رحمه الله) په نظر، په رمضان کې هلال بايد د غروب وروسته وليدل شي او همدا راز په شوال کې هم د هلال رؤيت بايد د غروب وروسته وي. دې ته د رسول الله ﷺ هغه حديث اشاره کوي، چې فرمايي: «**صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ وَأَفْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ**» (د هلال د رؤيت په وخت کې روژه ونيسئ او د هلال د رؤيت په وخت کې افطار وکړئ).

۲: په‌دې اړه د صحابه ؤ ترمنځ اختلاف شتون لري، د حضرت عمر، ابن مسعود او انس (رضی الله عنهم) څخه، چې کوم روايتونه رانقل شوي‌دي د امام ابوحنيفه او امام محمد (رحمهماالله) د قول تأييد او مشابه دی او بيا د حضرت عمر (رضی الله عنه) څخه په بل روايت کې، چې د علي او عايشې (رضی الله عنهما) قول ته ورته دی، دا د امام ابو يوسف (رحمه‌الله) قول تأييد او ورته مشابه دی. د ابو يوسف قول دليل دا دی؛ چې دا ښکاره ده، چې هلال مخکې له زوال څخه ليدل کيږي، پرته له‌دې، چې هغه په ۳۰مې ورځ کې وي، نو په همدې اساس حکم کوي، چې بايد د روژې افطار او د صوم پيل وشي. د همدې قول په تأييد کې د رسول الله ﷺ حديث دی، چې فرمايي: «**صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ وَأَفْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ**»، چې په‌دې سره روژه نيول او افطار کول بايد د هلال د رؤيت وروسته ترسره شي. د صحابوو او تابعينو له‌مخې د دې مانا دا ده، چې هلال بايد د مياشتې په آخري ماښام کې وکتل شي، په داسې حال کې، چې د ابو يوسف په نظر هلال که مخکې له زواله وليدل شي، نو دا د تېرې ورځې هلال دی او بايد په‌دې اساس عمل وشي.**وَفِيهِ خِلَافٌ بَيْنَ الصَّحَابَةِ وَرُوِيَ عَنْ عُمَرَ وَابْنِ مَسْعُودٍ وَأَنَسٍ كَقَوْلِهِمَا وَعَنْ عُمَرَ فِي رِوَايَةٍ أُخْرَى وَهُوَ قَوْلُ عَلِيٍّ وَعَائِشَةَ مِثْلُ قَوْلِ أَبِي**

**يُوسُفَ اهـ وَجْهُ قَوْلِ أَبِي يُوسُفَ أَنَّ الظَّاهِرَ أَنَّهُ لَا يُرَى قَبْلَ الزَّوَالِ إلَّا وَهُوَ لِلثَّلَاثِينَ فَيُحْكَمُ بِوُجُوبِ الْفِطْرِ وَالصَّوْمِ عَلَى اعْتِبَارِ ذَلِكَ** ..(ابن الهمام،بی تا: ۳۱۸/۲)

**مختاره او غوره قول:** د څېړنې وروسته څرګنده شوه، چې راجح قول د امام ابوحنيفه او امام محمد(رحمهماالله) دی او د امام ابو يوسف(رحمه الله) قول د نص مخالف ښکاري. **فَفِيمَا قَالَهُ أَبُو يُوسُفَ مُخَالَفَةُ النَّصِّ اهـ مُلَخَّصًا**.(ابن عابدين،۱۴۱۲:۴۱۶/۳)

ژباړه: امام ابو يوسف(رحمه الله) چې څه ويلي دي، هغه د(شرعي نص) سره مخالف ښکاري.

۱ـ **وَالْمُخْتَارُ قَوْلُهُمَا، وَهُوَ كَوْنُهُ لِلْمُسْتَقْبَلَةِ قَبْلَ الزَّوَالِ وَبَعْدَهُ، إلَّا أَنَّ وَاحِدًا لَوْ رَآهُ فِي نَهَارِ الثَّلَاثِينَ مِنْ رَمَضَانَ فَظَنَّ انْقِضَاءَ مُدَّةِ الصَّوْمِ وَأَفْطَرَ عَمْدًا يَنْبَغِي أَنْ لَا تَجِبَ عَلَيْهِ كَفَّارَةٌ، وَإِنْ رَآهُ بَعْدَ الزَّوَالِ ذَكَرَهُ فِي الْخُلَاصَةِ**. (ابن الهمام، بی تا: ۳۱۸/۲)

ژباړه: مختاره قول د دوی قول دی (د امام ابو حنيفه او امام محمد قول)، چې هلال که مخکې له زواله وليدل شي او که وروسته له زواله، هغه د راتلونکې شپې لپاره دی. مګر که يو کس په رمضان کې د ۳۰مې ورځې په ورځ هلال وليد او په دې باور شو، چې د روژې موده پای ته رسېدلې او قصداً افطار وکړ، نو بايد د هغه پر وړاندې کفاره نه وي، مګر که هغه هلال وروسته له زواله وليد، نو د دې په اړه يې په "الخلاّصه"کتاب کې ذکر کړی‌دی.

۲ـ علامه زيلعي فرمايلي: د امام ابوحنيفه او امام محمد(رحمهماالله) د قول لپاره دليل د رسول الله ﷺ حديث دی: «**صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ وَأَفْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ**»، چې په‌دې سره د روژې او افطار کولو وخت د هلال د رؤيت سره تړاو لري. په‌دې اساس، بايد د هلال ليدل مخکې له‌دې، چې روژه ونيسئ يا افطار وکړئ. د صحابه‌وو او تابعينو په نظر د هلال رؤيت د مياشتې په آخر ماښام کې بايد وي، په‌داسې حال کې، چې د ابو يوسف او نورو په نظر، که هلال مخکې له زواله وليدل شي، نو دا د تېرې ورځې هلال دی، چې د طرفينو له نظر سره مخالف دی. (زيلعي،۱۳۱۳: ۱۶۶/۲)

۳ـ همدارنګه علامه زيلعي فرمايلي: که هلال په هغه ورځ، چې د شک ورځ ګڼل کېږي (د ۳۰مې ورځې په اړه چې روژه څرګنده نه‌ده)، که په ورځ کې وليدل شي، نو هغه د راتلونکې شپې لپاره ده، که مخکې له زواله وليدل شي او که وروسته له زواله او دغه ورځ نه د رمضان ورځ ده او نه د شوال. اما د ابو يوسف څخه روايت شوی؛ چې هغه ويلي: که هلال مخکې له زواله وليدل شي، نو دا د تېرې شپې هلال دی او که وروسته له زواله وليدل شي، نو دا د راتلونکي شپې هلال دی. ځينو ويلي، که لمر د هلال په مخ کې وي (لمر د هلال مخکې وي)، نو دا د راتلونکي شپې هلال دی او که هلال د لمر وروسته وي (هلال د لمر نه وروسته وي)، نو دا د تېرې شپې هلال دی. لومړی قول، چې د طرفينو دی ظاهر او اولی دی(زيلعي،۱۳۱۳: ۱۶۶/۲)

**۳ـ ولا عبرة برؤية الهلال نهارا سواء كان قد رؤي قبل الزوال أو رؤي بعده وهو الليلة المستقبلة لقوله صلى الله عليه وسلم: صوموا لرؤيته ... الخ فوجب سبق الرؤية على الصوم والفطر والمفهوم المتبادر منه الرؤية عند عشية كل شهر عند الصحابة والتابعين ومن بعدهم "في المختار" من المذهب.**( الشرنبلالي،۱۴۲۵: ۲۴۴/۱)

ژباړه: د ورځې په جريان کې د مياشت په ليدلو باندې هېڅ اعتبار نه‌شته، که هلال مخکې له زواله وليدل شي او که وروسته له زواله دا د راتلونکي شپې هلال دی. د رسول الله ﷺ فرمان دی: «**صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ وَأَفْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ**...»، چې د دې له مخې د هلال د رؤيت په بنسټ بايد روژه ونيسئ او افطار وکړئ او د صحابه‌وو، تابعينو او له‌دوی وروسته خلکو په نزد د هلال رؤيت د مياشتې په آخرماښام کې وي او دا هغه مختار قول دی، چې د مذهب د اصولو سره سم دی.

**د ټليګراف، ټليفون او راډيو له لارې شهادت(ګواهي)**

علامه زيلعي فرمايل، چې د شهادت له شرائطو څخه قاضي ته د شاهد حضور دی. يعنې د شهادت په وخت شاهدد قاضي حضور ته شاهدي وړاندې کړي، ځکه د ټليګراف، ټليفون او راډيو له لاري شاهدي ورکولو کې احتمال د غير شاهد شته.

**وَلَوْ سَمِعَ مِنْ وَرَاءِ الْحِجَابِ لَا يَسَعُهُ أَنْ يَشْهَدَ لِاحْتِمَالِ أَنْ يَكُونَ غَيْرُهُ إذَا النَّغْمَةُ تُشْبِهُ النَّغْمَةَ**(زيلعي،۱۳۱۳: ۲۱۴/۴)

ژباړه: که چېرې چا د پردې تر شا واورېدل، نو د دې شاهدي نه‌شي ورکولای احتمال د دې شته، چې له‌دې پرته بل څه وي ځکه کله هم داسې وي؛ چې يو ږغ له بل ږغ سره ورته وي او علامه مرغيناني د ټليگراف، ټليفون او راډيو له لارې د شهادت(گواهي) په‌هکله فرمايلي: چې گواهي د پردې تر شا روا نه ده او قاضي به هم دا ډول گواهي نه قبلوي. نو د ټليگراف، ټليفون او راډيو له لارې شهادت(گواهي) هم يو ډول غائبانه گواهي ده، ځکه يو ږغ له بل ږغ سره ورته وي نوعلم نه پرې حاصلېږي.

**ولو سمع من وراء الحجاب لا يجوز له أن يشهد، ولو فسر للقاضي لا يقبله. لأن النغمة تشبه النغمة فلم يحصل العلم** (مرغيناني،بي تا:۱۱۹/۳)

ژباړه: که چېرې چا د پردې تر شا واورېدل نو شاهدي ورته روا نه ده او که قاضي ته يې بيان کړي نوهغه به يې نه مني ځکه کله هم داسې وي، چې يو ږغ له بل ږغ سره ورته وي نوعلم پرې نه حاصلېږي.

**اختلاف مطالع**

د مطالع په نفس کې هېڅ اختلاف نه‌شته. په‌دې معنا، چې کله هم داسې وي، چې د دوو ښارونو منځ کې دومره فاصله وي، چې په يو ښار کې مياشت وليدل شي او په بل ښار کې ونه ليدل شي او همدا اختلاف د لمر هم دی ځکه د مياشتې جلا والی د لمر د شعاع نه د اختلاف اقطار له وجې وي، نو له همدې امله کله، چې لمر په ختيځ کې ډوب شي ضروري نه‌ده، چې په لويديځ کې دې هم ډوب شي. کله داسې وي چې په يو هېواد کې ورځ وي او په بل هېواد کې شپه وي. لکه څنگه، چې علامه زيلعي په تبيين الحقائق فرمايلي دي. **وَانْفِصَالُ الْهِلَالِ عَنْ شُعَاعِ الشَّمْسِ يَخْتَلِفُ بِاخْتِلَافِ الْأَقْطَارِ كَمَا أَنَّ دُخُولَ الْوَقْتِ وَخُرُوجَهُ يَخْتَلِفُ بِاخْتِلَافِ الْأَقْطَارِ حَتَّى إذَا زَالَتْ الشَّمْسُ فِي الْمَشْرِقِ لَا يَلْزَمُ مِنْهُ أَنْ تَزُولَ فِي الْمَغْرِبِ وَكَذَا طُلُوعُ الْفَجْرِ**

**وَغُرُوبُ الشَّمْسِ بَلْ كُلَّمَا تَحَرَّكَتْ الشَّمْسُ دَرَجَةً فَتِلْكَ طُلُوعُ فَجْرٍ لِقَوْمٍ وَطُلُوعُ شَمْسٍ لِآخَرِيْنِ وَغُرُوبُ لِبَعْضٍ وَنِصْفُ لَيْلٍ لِغَيْرِهِمْ**(زیلعي،۱۳۱۳:۱/۳۲۱)

ژباړه: د میاشتې جلا کېدل د لمر له شعاعو د بېلابېلو سیمو لهمخې توپیر لري. لکه د وخت شروع، پیل او پای د بېلابېلو سیمو لهمخې تاکل کېږي آن تر دې که چېرې لمر په ختیځ کې ډوب شي نو ضروري نهده، چې لمر دې په لویدیځ کې هم ډوب شي، همدارنګه سهار او ماښام کېدل. د لمر د ګرځېدو سره به په ځینو خلکو سهار وي او په ځینو به لمر وي او په ځینو به شپه او په ځینو نورو به نیمه شپه وي.

## د اختلاف مطالع په اړه د علماؤو لیدلوری

### ۱: د علامه زیلعي لیدلوری

علامه زیلعي فرمایي چې د هر قوم لپاره خپل مطلع ده او نورو لره عمل د دوی په مطلع لازمه نهده. یعنې که څوك په یو ځای کې د روژې میاشت ووینې نو د دغه لیدلو په اساس د نورو ځایونو اهل د روژې په نیولو باندې مکلف نهدي. د زیلعي دلیل د ابن عباس (رض) اجتهاد دی. چې د کرېب څخه روایت دی؛ چې ام الفضل بنت الحارث د معاویه لپاره وشام ته استولی و. هغه وویل: زه شام ته ورسېدم او خپل کارونه مې بشپړ کړل او د رمضان شپه راباندې راغله او زه په شام کې وم. ما د جمعې په شپه هلال ولید. بیا کله چې مدینې ته راستون شوم، عبد الله بن عباس (رضي الله عنه) پوښتنه وکړه او د هلال په اړه یې وویل: تاسو کله هلال ولید؟ ما ځواب ورکړ: موږ د جمعې په شپه هلال ولید. هغه وویل: آیا تاسې ولیدل؟ ما وویل: هو، خلکو ولیدل او روژه یې ونیوله او معاویه هم روژه نیولې وه. هغه وویل: خو موږ د شنبه په شپه هلال ولید، نو موږ باید تر ۳۰ مې پورې روژه ونیسو یا هلال وګورو. ما ورته وویل: آیا د معاویه د رؤیت او روژې سره به اکتفاء ونه کړئ؟ هغه وویل: نه، دا داسې ده لکه څنګه چې رسول الله ﷺ موږ ته حکم کړی دی.**عَنْ كُرَيْبٍ أَنَّ أُمَّ الْفَضْلِ بِنْتَ الْحَارِثِ بَعَثَتْهُ إِلَى مُعَاوِيَةَ بِالشَّامِ قَالَ: فَقَدِمْتُ الشَّامَ فَقَضَيْتُ حَاجَتَهَا وَاسْتَهَلَّ عَلَيَّ رَمَضَانُ وَأَنَا بِالشَّامِ فَرَأَيْتُ الْهِلَالَ لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ ثُمَّ قَدِمْتُ الْمَدِينَةَ فِي آخِرِ**

**الشَّهْرِ فَسَأَلَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، ثُمَّ ذَكَرَ الْهِلَالَ فَقَالَ...** (زيلعي،۱۳۱۳:۱/۳۲۱)

دا حديث د صحابي ابن عباس (رضي الله عنه) په اړه دی، چې هغه په‌دې اساس عمل کوي، چې دوی بايد د هلال په اړه خپل مستقل رؤيت ته پام وکړي او د معاويه رؤيت يې نه‌دی منلی. ابن عباس (رضي الله عنه) د رسول الله ﷺ هغه حکم ته اشاره کوي، چې د هلال د رؤيت او روژې پيل لپاره بايد د خپل ځای رؤيت وليدل شي. په‌دې پورته حديث کې نه د نبي **صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ** لفظ اونه يې معنا ذکر ده. بلکې يو مجمله کلمه ذکر ده. او دا قول، چې(**هَكَذَا أَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ**) دی. دا حديث شيخينو او صحابه‌وو په‌دې ډول روايت کړی فَلاَ نَزَالُ نَصُومُ حَتَّى نكمل ثلاثين او دا روايت په‌دې دلالت کوي، چې معاويه (رض) مياشت ليدلې وه او د مسلم روايت په‌دې تصريح کوي، چې کريب هم مياشت ليدلې وه او امام شافعي رح دا قول صحيح ګڼلی دی.

**۲: د حنفي مذهب ليدلوری**

دويم قول د احنافو أئمه ۋ ظاهرالرواية دی، هغه چې احنافو، مالکيه او حنابله ۋ معتمد ګڼلی دی او همدې قول ته بعضو شوافعو هم رجوع کړې ده. دوی فرمايي چې د مطلع اختلاف اعتبار نه‌لري. يعنې په هر ځای کې چې مياشت وليدل شوه د نورو ښارونو په اهل هم هغه عمل واجب دی.**وَهُوَ ظَاهِرُالرِّوَايَةِ عَنْ أَئِمَّتِنَا وَهُوَ الْمُعْتَمَدُ عِنْدَنَا وَعِنْدَالْمَالِكِيَّةُ وَالْحَنَابِلَةُ وَإِلَيْهِ بَعْضَ الشَّافِعِيَّةُ**(زروبوي، بی تا: ۸/۲)

ژباړه: دا زموږ د امامانو لخوا په (ظاهرالرواية)څرګنده توګه روايت شوی‌دی او دا زموږ لپاره او د مالکي او حنبلي مذهبونو لپاره د قبول او اعتماد وړ نظر دی، د شافعي مذهب يو شمېر علماوو هم دې نظر ته رجوع کړې‌ده. يعنې دلته د مختلفو اسلامي فقهي مذاهبو (مالکي، حنبلي او ځينې شافعي) د هلال د رؤيت په اړه د دې نظر تاييد شوی‌دی؛ چې د لرې سيمو خلک بايد د خپل ځای رؤيت ته پام وکړي او نه د بلې سيمې رؤيت ته. (لکن) **المعتمد الراجح عندنا أنه لا اعتبار به هو ظاهر الرواية**

**وعليه المتون كالكنز وغيره.(وهو) الصحيح عند الحنابلة كما في الإنصاف. (وكذا) هو مذهب سائر المالكية**(مجلة مجمع الفقه الاسلامی ،بی تا: ۲ /۶۹۹)

ژباړه: خو زموږ لپاره د منلو وړ او غوره نظر دا دی؛ چې د هلال د رؤيت پر اساس د بلې سيمې رؤيت ته هيڅ اعتبار نه‌شته، دا د روايت څرګنده معنا ده او دا د متونو لکه د 'الکنز' او نورو پر اساس دی. دا د حنبلي مذهب په نظر هم صحيح دی لکه څنګه چې په 'الإنصاف' کې راغلي دي. همدا نظر د مالکي مذهب له ټولو علماوو سره هم همغږی دی. په‌دې اساس، د دې عبارت له‌مخې، د هلال د رؤيت پر بنسټ د بلې سيمې رؤيت ته هيڅ اعتبار نه ورکول کېږي او دا نظريه د حنبلي او مالکي مذاهبو لخوا تأييد شوې‌ده.

### ۳: درېيم قول د احنافو نادرالرواية

دوي فرمايي: اختلاف مطالع په بلاد متقاربه(نږدې ښارونه) کې اعتبار نه‌لري او په بلاد متباعده(لرې ښارونه) کې اعتبار لري؛ يعني په بلاد متقاربه ؤ کې که په يو ښار کې مياشت وليدل شوه او په بل کې ونه ليدل شوه نو دا اعتبار نه‌لري نو د دواړو ښارونوحکم يو دی او په بلاد متباعده ؤ کې که په يو ښار کې مياشت وليدل شوه او په بل کې ونه ليدل شوه نو دا اعتبار لري او د دواړو ښارونو حکم يو نه‌دی.

**وَلَيْسَ عَلَى أَهْلِ الْبَلَدِ الْآخَرِ قَضَاؤُهُ لِمَا ذَكَرْنَا أَنَّ الشَّهْرَ قَدْ يَكُونُ ثَلَاثِينَ وَقَدْ يَكُونُ تِسْعَةً وَعِشْرِينَ، هَذَا إذَا كَانَتْ الْمَسَافَةُ بَيْنَ الْبَلَدَيْنِ قَرِيبَةً لَا تَخْتَلِفُ فِيهَا الْمَطَالِعُ، فَأَمَّا إذَا كَانَتْ بَعِيدَةً فَلَا يَلْزَمُ أَحَدَ الْبَلَدَيْنِ حُكْمُ الْآخَرِ لِأَنَّ مَطَالِعَ الْبِلَادِ عِنْدَ الْمَسَافَةِ الْفَاحِشَةِ تَخْتَلِفُ فَيُعْتَبَرُ فِي أَهْلِ كُلِّ بَلَدٍ مَطَالِعُ بَلَدِهِمْ دُونَ الْبَلَدِ الْآخَرِ**(الکاساني ۱۴۰۶، ۲: /۸۳)

ژباړه: د بلې سيمې خلکو باندې د هغه هلال د رؤيت پر بنسټ روژه نيولو حکم نه کېږي، ځکه مياشت کله ۳۰ ورځې وي او کله ۲۹ ورځې وي. دا هغه وخت دی کله چې د دوو سيمو ترمنځ فاصله نږدې وي او افقونه يې توپير ونه‌لري. خو که فاصله يې لرې وي، نو هېڅ يوه سيمه د بلې سيمې د حکم تابع نه‌ده، ځکه چې د

ډېرو ليرو سيمو افقونه مختلف وي، نو هره سيمه بايد يوازې د خپل ځاى افق ته پام وکړي، نه د بلې سيمې افق ته په‌دې اساس، د شافعي مذهب په نظر، که دوې سيمې ډېره فاصله ولري او افقونه يې مختلف وي، نو د هرې سيمې خلك بايد يوازې د خپلې سيمې هلال ته پام وکړي نه د بلې سيمې هلال ته، د ځينو مشائخو دليل دادی؛ که چېري په بلاد بعيده ۆ کې اختلاف د مطلع معتبر نه‌کړل شي د رمضان په ورځو کې به کمی او زيادت راشي رمضان ورځې به اوه ويشت، اته ويشت اويا يو ديرش ورځې شي حال دا چې د رمضان ورځې نه‌ويشت يا ديرش وي.قَال الشَّيْخ محمّد يوسف البنوري **ولابُدَّ منْ تَسْلِيْم قول الزَّيْلَعِي وَالّا لَزِمَ وَقُوْعِ الْعِيْدِ يَوْمِ السَّابِعِ وَالْعِشْرُوْنَ وَالثَّامِنُ وَالْعِشْرُوْنَ اوالْحادِى والثَلاثِيْنَ والثَّانِى وَالثَلاثِيْنَ اِذا كَانَ بَيْنَ الْبَلْدَتَيْنِ مَسَافَةٌ بَعِيْدَةٌ كَالْهِنْدِ وَالْقُسْطُنْطِيْنِيَّةٌ فَرُبَمَا يَتَقَدَّمُ طُلُوْعِ الْبِلاَدِ فِى بِلادِالقُسْطُنْطِيْنِيَّةٌ يَوْمَيْنِ فَاذَا رَؤَى الْهِلَالَ فِى بِلادِ الْهِنْدِ بَعْدَ رَؤْيَةَ الْهِلالِ هُنَاکَ بِلَيْلَتَيْنِ ثُمَّ بَلَغَتْنَا رُؤْيَتَهُمْ فَانْ لَزِمَتْنَا رُؤْيَتَهُمْ لَزِمَ تَقَدَّمُ الْعِيْدِ**(البنوری، بی تا:۷۷۳/۵)

ژباړه: شيخ محمد يوسف بنوري فرمايلي: لازمه ده، چې د زيلعي قول ته تسليم شو او که داسې نه‌وي، نو د اختر ورځ به د اوه ويشتمې، اته ويشتمې، يودېرشمې او دوه ديرشمې ورځو په توګه راشي، که چېرې د دوو سيمو ترمنځ فاصله ډېره وي، لکه هند او قسطنطينيه، نو کېدای شي د قسطنطينيه خلك د هند خلکو په پرتله دوه ورځې مخکې هلال ووينې. نو که هلال په هند کې وروسته له‌دې، چې د قسطنطينيه خلکو ليدلی وي، بيا يې ووينئ، نو په دې صورت کې به د هند د خلکو رؤيت پر موږ لازم وي او د اختر ورځ هم مخکې تاکل کېږي. په‌دې اساس، شيخ محمد يوسف بنوري ويلي دي: چې که د دوو سيمو ترمنځ فاصله ډېره وي (لکه هند او قسطنطينيه)، نو د يوې سيمې خلکو ته د هلال رؤيت، د بلې سيمې خلکو ته معتبر نه ګڼل کېږي.

۲_ هغه ښارونه، چې په اعتبار د قواعدو د علم هیئت اختلاف لري او د مسافت اندازه یې د یوې میاشتې ده، نوهلته اختلاف د مطالعو معتبر دی او حکم د یو ښار د بل ښار سره لازم نه‌دی.

**قيل يختلف ثبوته باختلاف المطالع واختاره صاحب التجريد وغيره كما إذا زالت الشمس عند قوم وغربت عند غيرهم فالظهر على الأولين لا المغرب لعدم انعقاد السبب في حقهم**.( المباركفوري،۱۴۰۴: ۶۵۶/۱)

ژباړه: ویل شوي، چې د هلال ثبوت د افقونو په مختلفوالي پورې اړه لري او دا نظریه د 'التجرید' او نورو کسانو لخوا غوره شوې‌ده، لکه څنګه چې کله لمر د یوې ډلې په نزد زوال ته نږدې شي او د بلې ډلې په نزد لوېدلی وي. نو په لومړۍ ډله کې د ماسپښین لمونځ دی نه ده ماښام لمونځ. ځکه چې د مغرب لمونځ لپاره سبب نه دی جوړ شوی. په‌دې اساس، د هلال د رؤیت پر اساس د مختلفو سیمو افقونه متفاوت وي او له همدې امله د یو ځای خلکو لپاره د عباداتو وختونه ممکن بېل شي.

**۳: د شافعي مذهب لیدلوری**

شوافعو فرمایلي دي: که چېرې د هلال رؤیت په یوه سیمه کې ثابت شي، نو د هغې سیمې نېږدې خلکو (چې د هر اړخ څخه ورته نږدې دي) باندې روژه نیول فرض دي. دا باید د رؤیت د ثبوت پر اساس وشي او نېږدې والی د دې لپاره د افق د یووالی له‌مخې ټاکل کېږي، یعنې که د دوو سیمو ترمنځ فاصله له څلورویشتو فرسخو کمه وي. اما د هغو سیمو خلک، چې له‌دې ځای څخه لیرې دي، باید د دې رؤیت پراساس روژه و نه نیسي ځکه، چې د دواړو سیمو افقونه مختلف دي.**الشافعية قالوا: إذا ثبتت رؤية الهلال في جهة وجب على أهل الجهة القريبة منها من كل ناحية أن يصوموا بناء على هذا للثبوت، والقرب يحصل باتحاد المطلع، بأن يكون بينهما أقل من أربعة وعشرين فرسخاً تحديداً، أما أهل الجهة البعيدة، فلا يجب عليهم الصوم بهذه الرؤية لاختلاف المطلع**(الجزيري،۱۴۲۴: ۵۰۰/۱)په‌دې اساس،

شافعي مذهبه وايي: كه هلال په يوه سيمه كې ليدل شوىوي، هغه سيمه چې د نورو سيمو سره ورته افق لري خلكو ته يې د روژې نيولو حكم دى. خو د نورو سيمو خلكو ته دا حكم نه وركول كېږي څكه چې د هغوى افق مختلف دى.

**راجح قول**

د څېړنې او د مذاهبو راسپړلو وروسته دا څرګنده شوه، چې د احنافو د مذهب ليدلورى د مطالعو د اختلاف په اړه راجح دى او هغه دا چې نفس اختلاف مطالع اعتبار نهلري، يعنې په بلاد قريبه(نږدې ښارونو)كې هر ځاى كې، چې مياشت وليدل شوه په اهل د نورو ښارونو هم هغه عمل واجب دى او كومو رواياتو كې، چې اختلاف مطالع معتبرګڼل شوى هغه په بلاد بعيده(ليرې ښارونو كې)دى. **هَذَا إذَا كَانَتْ الْمَسَافَةُ بَيْنَ الْبَلَدَيْنِ قَرِيبَةً لَا تَخْتَلِفُ فِيهَا الْمَطَالِعُ، فَأَمَّا إذَا كَانَتْ بَعِيدَةً فَلَا يَلْزَمُ أَحَدَ الْبَلَدَيْنِ حُكْمُ الْآخَرِ.**( الكاساني، ۱۴۰۶: ۸۳/۲)

**د راجح قول د راجحيت دليلونه**

۱: **وَلَا عِبْرَةَ لِاخْتِلَافِ الْمَطَالِعِ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ كَذَا فِي فَتَاوَى قَاضِي خَانْ.وَعَلَيْهِ فَتْوَى الْفَقِيهِ أَبِي اللَّيْثِ وَبِهِ كَانَ يُفْتِي شَمْسُ الْأَئِمَّةِ الْحَلْوَانِيُّ قَالَ لَوْ رَأَى أَهْلُ مَغْرِبٍ هِلَالَ رَمَضَانَ يَجِبُ الصَّوْمُ عَلَى أَهْلِ مَشْرِقٍ**

( البلخي، ۱۳۱۰:۱/۱۹۸)

ژباړه: په ظاهرالرواية كې د مطالعو د اختلاف پروا نه كېږي، لكه څنګه چې د قاضي خان په فتوا كې ذكر شوى او د فقيه ابو ليث او شمس الائمه حلواني فتوا هم په همدې اساس ده. هغه فرمايلي، كه په مغرب كې د رمضان مياشت وليدل شي، نو د مشرق په خلكو روژه نيول واجب دي. يعنې پهدې فتوا كې ويل شوي، چې كه چيرې د رمضان مياشت په يوه سيمه كې لكه مغرب كې وليدل شي، نو په نورو سيمو كې لكه مشرق كې هم بايد خلك په يوه وخت كې روژه پيل كړي.

**۲: اعْلَمْ أَنَّ نَفْسَ اخْتِلَافِ الْمَطَالِعِ لَا نِزَاعَ فِيهِ بِمَعْنَى أَنَّهُ قَدْ يَكُونُ بَيْنَ الْبَلْدَتَيْنِ بُعْدٌ بِحَيْثُ يَطْلُعُ الْهِلَالُ لَهُ لَيْلَةَ كَذَا فِي إحْدَى الْبَلْدَتَيْنِ دُونَ الْأُخْرَى وَكَذَا مَطَالِعُ الشَّمْسِ؛ لِأَنَّ انْفِصَالَ الْهِلَالِ عَنْ شُعَاعِ الشَّمْسِ يَخْتَلِفُ بِاخْتِلَافِ الْأَقْطَارِ حَتَّى إذَا زَالَتْ الشَّمْسُ فِي الْمَشْرِقِ لَا يَلْزَمُ أَنْ تَزُولَ فِي الْمَغْرِبِ**،( ابن عابدين ،۱۴۱۲: ۴۱۸/۳)

ژباړه: پوه شه، چې د مطالعو د اختلاف په اړه هېڅ اختلاف نه‌شته، يعنې ښايي په دوو ښارونو کې داسې فاصلې وي، چې هلال په يوه ښار کې په يوې شپې کې څرګندېږي، خو په بل ښار کې نه څرګندېږي. همداسې د لمر راختل هم. ځکه چې د لمر شعاع په ټولو ځايونو کې يو ډول نه قطع کېږي؛ نو کله چې لمر په مشرق کې له نظره ورک شي، لازمي نه‌ده، چې په مغرب کې هم له نظره ورک شي. دا په‌دې معنا ده، چې د هلال ليدل په مختلفو ځايونو کې متفاوت وختونه لري. ځکه چې د لمر او هلال د ليدلو لپاره د جغرافيايي موقعيتونو توپيرونه شتون لري او د هلال ليدل په يوه ځای‌کې مخکې او په بل ځای کې وروسته کيدای شي.

**۳: إذا ثبتت الرؤية في بلد وجب على المسلمين الالتزام بها ولا عبرة لاختلاف المطالع لعموم الخطاب بالأمر بالصوم والإفطار**.( الزُّحَيْلِيّ ،بی تا: ۷ /۵۱۰۲)

ژباړه: که چېرې په يوه هېواد کې د هلال ليدل ثابت شي، نو پر مسلمانانو باندې لازمه ده، چې ورته عمل وکړي او د مختلفو ځايونو د مطالعو اختلاف ته پام نه کېږي، ځکه چې د روژې او افطار حکم عمومي دی. يعنې که په يوه ځای کې د رمضان هلال وليدل شي، نو ټول مسلمانان بايد ورته عمل وکړي، که څه هم ممکن په نورو ځايونو کې هلال په بل وخت ښکاره شي.

۴: وقال في مراقي الفلاح: **إذا ثبت الهلال في بلدة لزم سائر الناس في ظاهر المذهب وعليه الفتوى وهو قول أكثر المشائخ**(المباركفوري ،۱۴۰۴: ۴۲٦/٦)

ژباړه: په مراقي‌الفلاح کې ويل شوي‌دي: که په‌کوم ښار کې هلال ثابت شي نو د دې ښار ټولو خلکو ته پکار ده، چې روژه شروع کړي او دا ظاهرالمذهب ده او

په همدې قول فتوا او دا قول د اکثره مشائخو هم دی. یعنې که چېرې په یوه ښار کې د رمضان هلال ثابت شي، نو ټولو مسلمانانو ته لازمه ده، چې په دغه وخت کې روژه پیل کړي.

**۵: اختلاف المطالع غير معتبر على ظاهر المذهب وعليه أكثر المشائخ وعليه الفتوى فيلزم أهل المشرق برؤية أهل المغرب إذاً ثبت عنه دهم رؤية أولئك بطريق موجب**(ابن عابدين ،۱۴۱۲، ۲ /۳۰۱)

ژباړه: د ظاهرالمذهب په اساس د مطالعو اختلاف پروا نه کېږي او زیاتره مشایخ هم په همدې باندې فتوا ورکوي. نو که چېرې د مغرب خلکو هلال ولید، نو د مشرق خلکو باندې هم لازمي ده، چې د هغوی د لیدلو په اساس روژه پیل کړي، که چېرې د هغوی لیدل د معتبرې لارې لهمخې ثابت شي.

**٦: وَهُوَ ظَاهِرُالرِّوَايَةِ عَنْ أئِمَّتِنَا وَهُوَ الْمُعْتَمَدُ عِنْدَنَا وَعِنْدَالمَالِكِيَّةُ وَالْحَنَابِلَةُ وَإِلَيْهِ بَعْضَ الشَّافِعِيَّةُ**(زروبوی ،بی تا: ۸/۲)

ژباړه: دا زموږ د امامانو لخوا په (ظاهرالروایة) کې روایت شوی‌دی او دا زموږ لپاره او د مالکي او حنبلي مذهبونو لپاره د قبول او اعتماد وړ نظر دی او د شافعي مذهب یو شمیر علماوو هم دې نظر ته رجوع کړې‌ده.

**۷: (لكن) المعتمد الراجح عندنا أنه لا اعتبار به هو ظاهر الرواية وعليه المتون كالكنز وغيره.(وهو) الصحيح عند الحنابلة كما في الإنصاف. (وكذا) هو مذهب سائر المالكية**(مجلة مجمع الفقه الاسلامی ،بی تا: ۶۹۹/۲)

ژباړه: خو زموږ لپاره د منلو وړ او غوره نظر دا دی، چې د هلال د رؤیت پر اساس د بلې سیمې رؤیت ته هېڅ اعتبار نهشته، دا د روایت څرګنده معنا ده او دا د متونو لکه د 'الكنز' او نورو پر اساس دی. دا د حنبلي مذهب په نظر هم صحیح دی. لکه څنګه چې په 'الإنصاف' کې راغلي دي. همدا نظر د مالکي مذهب له ټولو علماوو سره هم همغږی دی.

**ورجح فقهائنا القول الثاني وهوظاهرالرواية واجابو عن حديث ابن عباس بانَّ الحجة رواية الراوى لا رأيه، ولم يذكر لفظ الحديث ولا معناه فلم نعلم انَّه بلَّغَه الحديث الصريح في اعتبار مطلع كل بلد لاهله دون غيره، او استنبطه من حديث اخرجه الشيخان، او لم يقبله لانه شهادة الواحد فى غير غيم، اولانه فات محل الشهادة وهو اول الشهر، وبالجملة ان هذا واقعة الحال ولم ينكشف اجماله فلايمكن الاستدلال به.**

**اعلم ان ظاهرالرواى وان كانت مطلقة، لكن الحديث الصريح والاجماع على ان الشهر لاينقض عن تسع وعشرين ولايزيد على ثلاثين يقتضيان تقيد ظاهرالرواية بما اذا لم يستلزم عدم الاعتبار نقصان الشهر عن تسع وعشرين او زيادته على الثلاثين، فالظاهر انَّ مآل ظاهرالرواية والرواية الثالثة الى امر واحد، فافهم.**(زروبوي،بی تا: ۹/۲)

ژباړه: زمونږ فقهاؤ دويم قول ته ترجيح ورکړی، چې دا ظاهرالرواية دی. چې هغه د امام ابوحنيفه(رحمه الله)ليدلوری دی او د ابن عباس حديث په اړه يې ځواب ورکړ، چې دليل د راوي روايت دی، نه د هغه نظر او هغه نه د حديث لفظ او نه يې معنا ياده کړې، نو مونږ نه پوهېږو چې آيا هغه د دې ځانګړي حديث پيغام رسولی و چې د هر ښار لپاره هلال د خپل ځای خلکو لپاره معتبر دی او که نه د نورو ځايونو لپاره. يا يې دا د بل حديث څخه استنباط کړی، چې شيخان (البخاري او مسلم) روايت کړی دی. او هغه يې نه‌دی منلی ځکه، چې د يوه شخص شهادت په بې له وريځو کې نه‌دی معتبر يا دا چې د شهادت ځای تېر شوی و کوم، چې د مياشتې پيل و. په عمومي توګه دا د وضعيت يوه برخه ده، چې وضاحت يې نه‌دی شوی، نو نه‌شو کولی په‌دې استدلال وکړو.يوه شئ، چې که څه هم ظاهرالرواية عمومي دی، خو صريح حديث او اجماع دا ښيي، چې مياشت به نه له ۲۹ ورځو کمېږي او نه له ۳۰ ورځو زياتېږي، چې دا ظاهر الرواية دی او دا ظاهر الرواية بايد په‌دې قيد

سره تفسير شي، چې کله هم د میاشتې کمښت د ۲۹ ورځو څخه یا زیاتوالی د ۳۰ ورځو څخه نه‌وي. نو ښکاري چې ظاهر الروایة او د درېیم روایت پایله یو ډول ده.

**پایله**

رؤیة‌الهلال په اسلام کې ځانګړی حیثیت لري او د اسلام مبارك دين د ځينو احکامو پیل او پای په همدې رؤیة‌الهلال پورې تړلي دي، په ځانګړي ډول روژه او اخترونه مسلمانان د میاشتې دقیق حساب کولو لپاره سپورږمۍ ته پام کوي نو د مسلمانانو لپاره لازمه دا ده، چې په روژې نیولو او اختر کولو کې د شعبان په نهه-ویشتمه کې دې د رمضان میاشت او یا د رمضان په نهه ویشتمه کې دې د اختر میاشت ولټوي نو په لیدلو سره دې روژه او اختر وکړي او که د شعبان او رمضان میاشتو کې وریځ او ګرځ وه میاشت و نه لیدل شوه، نو د شعبان او رمضان میاشتې دې دیرش ورځې پوره کړي بیا دې روژه او اختر وکړي، امام ابوحنیفه او محمد (رحمهاالله) فرمايي: کله چې د روژې د ورځې میاشت مخکې له زوال او وروسته له زوال څخه ولیدل شي دا ورځ د رمضان نه ده بلکې دا د راتلونکي شپې لپاره ده، چې دا قول په نزد د فقهاؤ مختاره ګڼل شوی او که یو کس په رمضان کې د ۳۰ مې ورځې په ورځ هلال ولید او په‌دې باور شو، چې د روژې موده پای ته رسیدلې او قصداً یې افطار وکړ، نو باید د هغه پر وړاندې کفاره نه‌وي که چیرې د رمضان د میاشتې لیدلو په وخت اسمان باندې وریځ وي، نو د یو عادل شخص خبره د دې لپاره، چې د رمضان هلال ثابت شي کافي ده او که چیرې آسمان باندې وریځ نه‌وي نو یوازې د عامو خلکو شهادت منل کیږي او د شوال د میاشتې لیدل، چې کله آسمان صاف نه‌وي، نو د دوو کسانو یا یوه سړي او دوه ښځو شهادت کافي ګڼل کیږي. لکه څنګه چې رسول الله ﷺ د دوو صحراوو استوګنو خلکو په ګواهۍ سره خلکو ته حکم وکړ، چې افطار وکړي او که چیرې هوا صافه وي، نو د فطر لپاره د ډیرو خلکو شاهدۍ ته اړتیا ده. په نفس اختلاف مطالع کې هیڅ اختلاف نه‌شته، په‌دې معنا چې کله هم داسې وي، چې د دوو ښارونو منځ کې دومره فاصله وي،

چې په یوه ښار کې میاشت ولیدل شي او په بل ښار کې و نه لیدل شي او جلاکېدل د میاشتې له شعاعو د لمر د بېلابېلو سیمو لهمخې توپیر لري، لکه د وخت شروع، پیل او پای د بېلابېلو سیمو له مخې ټاکل کېږي آن تر دې که چېرې لمر په ختیځ کې ډوب شي نو ضروري نهده، چې لمر دې په لویدیځ کې هم ډوب شي.

د اختلاف مطالع په اړه علامه زیلعي فرمايي، چې د هر قوم لپاره خپله مطلع ده او نورو لره عمل د دوی په مطلع لازم نهدی او د احنافو ظاهرالروایة ، مالکیه اوحنابله، ځیني شوافع دوی فرمايي، چې: اختلاف د مطلع اعتبار نهلري. یعنې نېږدې ښارونو کې په هر ځای کې، چې میاشت ولیدل شوه په اهل د نورو ښارونو هم هغه عمل واجب دی. ځیني مشائخ چې نادرالروایة دي، فرمايي: اختلاف د مطالع په بلاد متقاربه ؤ کې اعتبار نهلري او په بلاد متباعده ؤ کې اعتبار لري. یعنې په بلاد متقاربه ؤ کې که په یو ښار کې میاشت ولیدل شوه او په بل کې و نه لیدل شوه، نو دا اعتبار نهلري، نو د دواړو ښارونو حکم یو دی او په بلاد متباعده ؤ کې که په یو ښار کې میاشت ولیدل شوه او په بل کې و نه لیدل شوه نو دا اعتبار لري او د دواړو ښارونو حکم یو نهدی. مفتي محمد فرید زروبوي په منهاج السنن کې فرمايي، چې: ښکاري چې د ظاهر الروایة او نادرالروایة پایله یو ډول ده. په اسلامي حکومت د میاشتو پلټنه په ځانګړي ډول د روژې او افطار میاشتو پلټنه ضروري او رعیت خبرول او رعیت باندې منل ضروري دی او د حاکم د نهشتون په صورت کې، مسلمانان د خپلو مسلمانانو او د دوی د اعتماد وړ کسانو په پریکړو عمل کوي.

## منابع

## قرآن کریم


بخاری، محمد بن اسماعیل.(۱۴۲۲). **صحیح البخاري**. بیروت: دار طوق النجاة.

مسلم. ابن الحجاج ابوالحسن. **صحيح المسلم**.بي تا: بيروت دارالاحياء التراث العربى.

أبو داود.سليمان بن الأشعث بن إسحاق السِّجِسْتاني.بي تا. **سنن أبي داود**.بيروت:المكتبة العصرية.

وزارةالأوقاف والشئون الإسلامية(۱۴۲۷). **الموسوعة الفقهية الكويتية**.المكتبة الكويتية.

الصنعاني. عبدالرزاق بن همام.(۱۴۱۹). **تفسير عبد الرزاق** .بيروت: دارالكتب العلمية.

بغوي. عبد الله بن أحمد بن علي الزيد.(۱۴۱۶). مختصر **تفسير البغوي**. بيروت. دارالكتب العلمية.

الشافعي. أبو عبد الله محمد بن إدريس. (۱۴۲۷). **تفسير الإمام الشافعي**. دار التدمرية.

الزيلعي. فخر الدين الزيلعي الحنفي. (۱۳۱۳). **تبيين الحقائق**.المطبعة الكبرى الأميرية.

ابن عابدين، محمد أمين بن عمر. (۱۴۱۲). **رد المحتار** على الدر المختار. دار الفكر-بيروت.

بنوری. الشيخ محمد يوسف البنوری.بی تا،**معارف السنن**.كراچي: مطبعه ايج ايم سعيد كمپنی.

المالكي. أبو عبد الله المالكي. (۱۴۰۹). **منح الجليل شرح مختصرخليل**. بيروت: دار الفكر.

التونسي. محمد بن قاسم الأنصاري. (۱۳۵۰). **شرح حدود ابن عرفة** للرصاع. بير وت:المكتبةالعلمية.

المرغيناني. أبو الحسن برهان الدين.بي تا. **الهداية** في شرح بداية المبتدي. بيروت:دارالفكر.

زروبوی. مفتی محمدفريد،زروبوی،بی تا،**منهاج السنن**، پشاور: مؤتمرالمصنفين دارالعلوم حقانيه.

ابن الهمام. كمال الدين محمد بن عبد الواحد السيواسي.بي تا. **فتح القدير**. بيروت: دار الفكر.

العينى. أبو محمد محمود بن أحمد. (١٤٢٠). **البناية شرح الهداية**. بيروت: دار الكتب العلمية.

الشرنبلالي. حسن بن عمار بن علي الشرنبلالي. (١٤٢٥). **مراقي الفلاح** شرح نور الإيضاح .العصرية.

داماد أفندي. عبد الرحمن بن محمد.بى تا. **مجمع الأنهر**. دار إحياء التراث العربي.

القرطبي، أبو عمر يوسف. (١٣٨٧). **التمهيد** لما في الموطأ من المعاني والأسانيد. بيروت:دار الكتب العلمية.

الجزيري، عبد الرحمن بن محمد عوض.(١٤٢٤).**الفقه على المذاهب الأربعة**. بيروت: دار الكتب العلمية.

تصدر عن منظمة المؤتمر الاسلامي بجدة،(بى تا). مجلة **مجمع الفقه الإسلامي**.بيروت: دارالكتب العلمية.

الكاساني، علاء الدين، أبو بكر بن مسعود.( ١٤٠٦). **بدائع الصنائع**. بيروت: دار الكتب العلمية.

المباركفوري، أبو الحسن عبيدالله بن محمد. (١٤٠٦). **مرعاة المفاتيح** شرح مشكاة المصابيح. بيروت: دار الكتب العلمية.

البلخي، لجنة علماء برئاسة نظام الدين البلخي.( ١٣١٠). **الفتاوى الهندية**. بيروت: دار الفكر.

الزُّحَيْلِيّ، د. وَهْبَة بن مصطفى الزُّحَيْلِيّ.(بي تا). **الفِقْهُ الإسلاميُّ وأدلَّتُهُ**. بيروت: دار الفكر.

# دراسة ترجيحية في مسألة رؤية الهلال واختلاف المطالع

محمدعارف حليم

قسم الفقه والقانون ،الكلية الشرعية ، بجامعة فراه

**البريد الكترونيكى**: hhlym5085@gmail.com

## الملخص

تبحث هذه الدراسة في مسألة اختلاف المطالع ورؤية الهلال، سعياً لإبراز القول الراجح في هذا الباب. إن الأحكام الفقهية المتعلقة باختلاف المطالع تأتي ضمن إطار الشريعة الإسلامية، حيث ترتبط بثبوت دخول وخروج الشهور القمرية، وخاصة في ما يتعلق بشهر رمضان وعيدي الفطر والأضحى، مما يجعل هذه المسألة ذات أهمية بالغة.هدفت الدراسة إلى استعراض أقوال علماء المذاهب المختلفة ومناقشتها بهدف الوصول إلى القول الراجح. وتكمن أهمية هذه الدراسة من عدة جوانب، حيث إن هذه المسألة ليست مجرد قضية علمية أو فقهية، بل تمس وحدة الأمة الإسلامية، وتؤثر في توحيد المناسبات الشرعية، كما ترتبط بحاجة العصر لتطبيق الأحكام الشرعية بما يتناسب مع تطورات الواقع برزت الحاجة إلى هذه الدراسة نظراً لأن مسألة اختلاف الرؤية بين الرؤية البصرية (رؤية العين) والحسابات الفلكية تعد من الإشكاليات المتكررةوالمستمرة، والتي تُحدث كل عام خلافات واضطرابات في تحديد بدايات الشهور الهجرية، خاصة ما يتعلق منها بالصيام والأعياد وغيرها من الشعائر الدينية وتبين نتائج البحث، في ضوء الأحاديث الصحيحة والمعتبرة، كحديث: «صوموا لرؤيته وأفطروا لرؤيته»، أن الأصل في إثبات بدايات ونهايات الشهور القمرية هو الرؤية البصرية، لا الحسابات الفلكية. وهذا القول يتوافق مع آراء جمهور العلماء، ومنهم: الإمام أبو حنيفة، الإمام مالك، الإمام الشافعي، والإمام أحمد بن حنبل وقد اعتمدت الدراسة على المنهج المكتبي (الدراسة النصية والوثائقية)

**الكلمات الرئيسية:**اختلاف، رؤية ، صوم، مطالع ، هلال.